مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالعزیز نائیبي

۲۰۲۶/۰۶/۱۱

# د انتظار سندره

ښه پوهېږم نه درېږي
وخت کاپیره منډه کړې
زه بېوس ورته ولاړ یم
دی مې لوټي لکه منی
زه زاری ورته کومه
نه تمیږي دغه روی
کاش چي لږ خواته راتللی
خوږمن زړه مې ورسپړلی
څو خبرې یې اوریدلی
تر وطن یې رسولی
زما مور ته، زما پلار ته
پر ما ګران ښکلي دیار ته
له دې لرې وطنونو
د غربت له ماښامونو
ورته یې یو په یو ویلی
چي قیامت پر ما راغلی
دیدنونه مو ډیر ګران شول
ځکه مرمه غلی، غلی
کاش ډېره وای بې حسه
چي په هیڅ نه پوهېدلی
زما خبرې وخت ته زیاتي
لکه دعا لپو کې پاتي
کاش یو ځل وررسیدلی
زما له حاله خبریدلی
دعاګانې قبلېدلی

2026.06.10



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ